**مطبوعاتي اعلامیه**

## په ټونس کې د امریکایي ځواکونو ځای پر ځای کول لوی شر دی

یوه اونۍ وروسته له هغې چې د لیبیا الوفاق حکومت د الویټا هوایي اډه تر خپلې ولکې لاندې راوسته او د خلیفه هفتر ځواکونو او ملګرو یې د لیبیا لویدیځ کې نوې سیمې ېرته تر لاسه کړلې، د ټونس د دفاع وزیر امید هزګوی په ترتیب سره د فرانسې د دفاع وزیر فلورینس بارلي او په افریقا کې د امریکا د اردو قوماندان (AFRICOM) سټیفن ټاونسنډ، سره د ۲۰۲۰م د مې په ۲٦ او ۲۸مه د ټیلیفون پر کرښه خبرې وکړې. هغه همدا راز په ټونس کې د برېټانیا له سفیر، لویس دې سوسا سره هم د همدې میاشتې په ۲۷مه وکتل.

په لیبیا کې د روانې شخړې له دغو لوبغاړو سره خبرې اترې، د ټونس د نظامي همکارۍ د پیاوړتیا پر لارو چارو راڅرخي. کوم شی چې ډېر جدي دي او د ټونس د دفاع وزیر پټ کړي و، په افریقا کې د امریکا د اردو قوماندان (AFRICOM) د مې په ۲۹مه د جمعې په ورځ په یوه وینا کې افشا کړل، چې قوماندان سټیفن ټاونسند د ټونس د دفاع وزیر آی ایمډ هزګوی ته یې ویلي و، چې په لیبیا کې د روسیې د نظامي فعالیتونو په اړه د اندېښنو په لړ کې د «امنیتي ځواکونو مرستندویه لوا» ګومارل کېږي. دا ډېر د شرم ځای دی، چې د ټونس د دفاع وزیر لومړی له داسې یو چا سره ګوري او ټونس ته یې د راتګ بلنه ورکړې، چې د هېواد حاکمیت او نظامي پرېکړې تر ګواښ لاندې راولي!

لکه څنګه چې په افریقا کې د امریکا د اردو قوماندان (AFRICOM) څرګنده کړه، چې د چهارشنبې په ماښام، روسیه وړاندې له دې چې لږ تر لږ ۱۴ جنګیالي لیبیا ته واستوي هغوی یې په سوریه کې په یوه نظامي اډه کې پټ کړي وو، چې د خلیفه هفتار له ځواکونو سره په ګډه مبارزه وکړي، تر څو امریکا د روسیې د اجیرانو د ملاتړ لپاره د روسیې د سیمه ییزو واکمنانو پر ګواښلو سره د هغوی غوښتنې ته غاړه کېږدي. دا تکتیک د امریکا له خوا پر خلیج ایالتونو د فشار راوړلو لپاره له ایراني بوډا سړي څخه د کار اخیستلو یادونه کوي، چې خپلې ځمکې یې د امریکایي نظامي اډو پر مخ پرانېستې وې.

د افریقا لپاره د امریکا د اردو قوماندان (AFRICOM) په اصل کې د افریقا د واکمنۍ لپاره جوړ شوی و، خپله شتمني لوټوي او خپل خلک د استعمار تر یوغ لاندې راولي، تر څو د امریکا د نړیوالې سترا تیژۍ په چوکاټ کې د تېلو او شتمنیو سرچینې کنټرول کړي او په نړۍ کې ټولې سمندري لارې و څاري. له یوې خوا، غواړي د اروپایي استعماري نفوذ له منځه یوسي او له بلې خوا د امریکا له استعمار سره د هغه د ځای پر ځای کولو

سربېره له اسلام سره د «ټروریزم» تر نوم لاندې د مبارزې په پلمه جګړه وکړي. دا ځکه چې اسلام په نړۍ کې د افریقا په ګډون، چې ډېری وګړي یې مسلمانان دي، د دوی د استعماري ګټو لپاره یو رښتینی ګواښ دی.

**اې د تېونس خلکو، افسرانو او سرتېرو!**

«په ۲۰۱۵م کال کې له ناټو څخه د بېل ایتلاف په توګه د تېونس لاسلیک شوی تړون» زموږ هېواد په افریقا کې د امریکا لپاره یوه پرمختللې اډه ګرځېدلې ده، په دې لوی خیانت کې ستاسو چوپتیا امریکا دې ته اړ کوي چې زموږ په هېواد کې خپل ځواکونه مېشت کړي. که تاسو یې مخه ډب نه کړئ نو یو پراخ شر به رامنځ ته شي، ځکه امریکایي پوځ چې کوم هېواد ته لاړ شي، هغه تباه کوي او د خلکو عزت یې تر پښو لاندې کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ په جنګ کې د کفارو له مرستې څخه منع کړي یو. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَلَنْ يَجْعَلَ اللهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً﴾** [النسأ: ۱۴۱]

***ژباړه:*** *«الله سبحانه و تعالی د کفارو لپاره پر مسلمانانو د بر لاسه کېدو هېڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.*

د نبوت پر منهج له راشده خلافت پرته به بل هېڅ شی د امریکا او غربي کفارو هېوادونو له استعماري حرص او د افریقا په شمول د ټولې نړۍ د شتمنیو د اختصاص مخنیوی ونه شي کړای. له دې پرته به ټول انسانیت د پانګوال نظام له بې عدالتۍ او استعمار سره لاس او ګرېوان وي.

**د حزب التحریر- ولایه تېونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق د شوال ۱۰مه**

**۲۰۲۰م د جون لومړۍ**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۳۸**